سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۲/۰۱/۲۷

پښتو په یوه لیکښه: د پښتو ابیڅی په اړه وړاندیزونه

د پښتو ابیڅی په اړه اوږدمهاله وړاندیزونه:
د تیر په ادامه دریمه برخه

دلته غواړم د تیر پشان د پښتو ژبی څو نوری مهمی ستونزی رایادی کړم چی هغه په عربي ابیڅی نه حل کیږي خو که موږ لاتین ابیڅی وکاروو دا ستونزی په اسانه حل کیدلای شي او په پایله کی د پښتو ژبی په غوړیدا تمامیږي .

۱ ـ د الیپ (aa) ستونزه :

الیپ لپاره په لاتین ابیڅی کی موږ (aa) کارولی شو. ځینی قاموسونو او یا نورو پښتو کتابونو کی په لاتین ابیڅی د الیپ د ښودلو لپاره (ā) کارول شوی ، خو ښه به دا وي چی (aa) ولیکو. ددی وړاندیز ښیګڼه دا ده چی (aa) د لاتین ابیڅی پر لیک دړه تیار موجود دی او د هغه د لیک په مهال ډیر لټون ته اړتیا نه پیښیږي .

موږ په پښتو ژبه کی الیپ، چی د عربي ابیڅی په لیکښه یانی (ا) سره یي لیکو د (۷) بیلا بیلو تورو په ځای یي کاروو. په یوه ښه د (ا) لپاره (۷) دندی ترسره کول ستونزمن دي او دا ستونزه پښتو ژبی د عربي ابیڅی په رااخیستنه پر ځان بار کړیده. یانی موږ د الیپ دا یوه ښه (ا) هم د الیپ، زور، اوږدی (یا)، لنډی (یا) لنډ واو (و) اوږد واو او زورکي لپاره یوشان لیکو خو که دا په لاتین ابیڅی ولیکو، بیا موږ الیپ ته (aa)، زور لپاره (a)، اوږدی (ی) لپاره (e)، لنډی (ي) لپاره (i) لنډ واو لپاره (u) ، اوږد واو لپاره (o) او زورکي لپاره (ə) کارولی شو . اووه واړه بیلګی به لاندی راواخلو:

لومړی بیلګه: د (a) لپاره چی زور دی هم الیپ (ا) لیکو ، لکه لاندی :
ـ ای (ay)، لکه ای هلکه !
ـ ادی (ade)
ـ انګور (angur) او نور
دوهمه بیلګه: د (aa) لپاره چی الیپ دی هم الیپ (ا) لیکو ، لکه په لاندی بیلګو کی :
ـ تاند (Taand)
ـ ډار (ḍaar)
ـ کار (kaar)
ـ وار (waar)
دریمه بیلګه: د اوږدی (ی ، e) لپاره هم چی کله د وییونو په سر کی راځي الیپ لیکو ، لکه :
ـ ایلول (elaw əl)
ـ ایشودل (eşod əl)
ـ اجرا(eg ṛa)
څلورمه بیلګه: د لنډی (ي ، i) لپاره هم چی کله د وییونو په سرکی راځي الیپ لیکو ، لکه :
ـ ایره (ira)
ـ انځر (in ǰ ər)
پنځمه بیلګه: د اوږد واو (o) لپاره هم الیپ لیکو ، لکه:
ـ اوبلن (oblan)
ـ اوښکه (o şka)
ـ اوچولی (očulay) یا تندی
شپږمه بیلګه: د لنډ واو (u) لپاره هم الیپ لیکو ، لکه:
ـ اوم (um) یا خام
ـ اوږه (uǯa) یا سیر
اوومه بیلګه: د زورکي (ə) لپاره هم الیپ لیکو ، لکه:

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنی د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ـ ابته (əbta) هدر، بی مانا، عبث
ـ انکو (ənko) نیا، د مور مور
ـ انول (əṇawəl)، ټولول لکه انځران یا باتینګر [۱]
البته هیڅ ګرامرپوه یا لیکوال دا ستونزه په پورته څرنګوالي تر اوسه نه ده څیړلی او دا یوه غټه ستونزه ګڼلی شو چی له نورو زیاته یي د پښتو لیکبڼی څخه انجړه مشوړه جوړه کړیده .

۲ ـ د زور (a) او زورکي (ə) ستونزه :

عربی ابیڅی کی د زور لپاره توری نه لرو خو په لاتین کی دا توری شته چی هغه (a) دی. همدارنګه د زورکي لپاره هم توری نه لرو، خو په لاتین ابیڅی کی دا توری (ə) شتون لري .

اوس که موږ شل (د فلج په مانا) چی زور لري او شل (۲۰) چی شمیرنوم دی او زورکی لري په عربي ابیڅی لیکو ، لیکبڼه یي یوه راځي او لوستونکی نه پوهیږي چی په لیک کی یي څنګه توپیر وکړي . خو که همدا په لاتین ابیڅی ولیکو ، لکه (šal) شل د فلج په مانا او (š əl) شل د (۲۰) په مانا ، لوستونکی پوهیږي چی څه لولي .

همدارنګه د زړه (پخوانی، پیر) او زړه (قلب) یا د منګل (د پښتنو د یوه ټبر نوم دی) او منګل (د لاس موټی ، خپړه) په لیکلو کی ستونزه په لاتین ابیڅی سره په اسانه لری کیدای شي او داسی تر اخره .

۳ ـ د لنډ واو (u)،اوږد واو (o) او (w) ستونزه:

موږ د لنډ واو (u) ، اوږد واو (o) او په هغو ویونو کی چی که په لاتین ابیڅی یي ولیکو (w) وکاروو په عربی ابیڅی کی یوازی یوه بڼه لرو او هغه (و) دی . د (و) په دی یوه بڼه د پښتو ژبی ستونزه نه حل کیږي ، لاندی به څو بیلګی راواخلو:

ـ **لور** (Lur) د دختر په مانا
ـ **لور** (Lor) هغه اله چی وګړي پری وابنه او نور شیان ریبی یا داس
ـ **وردګ** (wardag) د افغانستان د یوه ولایت نوم دی .
په پورته دریواړه بیلا بیلو ویونو کی په عربي ابیڅی یوازی یو توری (و) لرو چی په لیکنه کی ستونزه رامنځته کوي ، په داسی حال کی چی په لاتین ابیڅی کی دری توری لرو او نوموړی ستونزه حل کیږي .

۴ ـ د یا ګانو (y ,e , i) ستونزه :

د (یا) ګانو په اړه هم چی مخکی پری په لنډ مهاله وړاندیزونو کی په تفصیل خبری شوی ، عربي ابیڅی د پښتو ستونزه نه شي حل کولای . په لاتین ابیڅی کی د (یا) ګانو په تړاو موږ دری توري کاروو او ددی تورو په کارونه د (یاګانو) ستونزه ډیره په اسانه حل کیدای شي .

ـ (i) د لنډی یا (ي) لپاره کارولای شو لکه په موچي، دوبي، سړي، کالي، خوري، څښي، ځي او نورو کی
ـ (e) د اوږدی یا (ی) لپاره لکه په ادی، مستی، شیدی، خوری، ځی، کوی او نورو کی
ـ (y) په نورو ټولو حالاتو کی چی هلته (یا) ته اړتیا وي کاریدای شي لکه :
الیپ ـ منګی، سړی، کالی، لوی، خوی، بوی، چای، ځای او نور
ب ـ ډوډی، کړکی، الماری، خوری، کوی، ځی او نور
ج ـ یرغل، یون، یو او نور
د ـ نړیوال، سیال، خویونه او نور
د پوهنیزو څانګو پراختیاوو او د اوسني تخنیک بیسارو پرمختیاوو، ټولنی او ولسونه د هراړخیز اوښتون او بدلون سره مخ کړي دي. په نویو حالاتو کی هغه ولسونه پاتیدلای او وړ ژوند کولای شي چی ځان له نویو حالاتو سره همغاړی کړي . همدارنګه هغه ژبی چی د وخت غوښتنی ، خپلو لمنو کی ځایولای شي او د خپلو ویونګړو پراخیدونکي اړتیاوی پوره کولای شي د وخت له بهیر سره همغږی پاتیږي او ژر نه مري.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

پښتو ژبی چی خپله غیږه کی یي د پوهنی او تخنیک د زاړه پیر پانګه هم نه ده راټوله کړی او ډیری پاتیګړی او نیمګړی لري ، نن مهال د پوهنی او تخنیک د اوسني پیر د چټک بهیر له غوښتنو سره هم مخ ده.

بل پلو له لویدیځ لوري فارسي او له ختیځ اړخه اردو ژبی له سترو ننګونو سره مخ کړیده. همدارنګه د عربی ژبی اوږد زیانمن اغیزهم باید له پامه ونه غورځول شي. پر سیمه او نړۍ د انګریزي ژبی جا لګه هم که یوخوا سیمه یزو او محلي ژبو ته د ودی پوهنیزه تومنه برابروي، خو بلخوا که د سیمی دا ژبی ځان کی د بدلون وړتوب ونه ښی، له دی پوهنیزی تومنی ګټه پورته نکړي او د خپلو ویونکو د ټولنیزو او پوهنیزو غوښتنو د ځواب جوګه نشي، انګریزي ژبه د دوی د پراختیا او ودی کړۍ هم راتنګولای شي.

تر هر چا مخکی د روڼ اندو او پوهانو دنده ده چی خپل ولس په پوهی او تخنیک کی له نورو په تیره بیا ګاونډیو ولسونو سره په ګټوره سیالۍ کی په یوه لیکه ودروي . په پوهی او تخنیک کی داسی سیالي د افغان ولس د خپلی ملي ژبی پرته شونی نه ده . ولس باید له نویو حالاتو څخه پخپله ژبه خبر او حالات ورته پخپله ژبه وژباړل شي .

نن سبا اړ یوو چی خپله ملي ژبه پښتو کی په سل ګونو زره نوي وییونه (لغتونه) پیداکړو چی په ساینس ، تخنیک ، فرهنګ، فلسفه، مذهب، طب، ټولنیزو چارو او نورو برخو کی رامنځته شوی پرمختیاوی پری په پښتو ونوموو او پښتانه پری پخپله مورنۍ ژبه خبر کړو.

د پښتو په موجوده ابیځی کی چی له عربی ژبی راپورشوی، پښتو ژبه نه ځاییږي او یادی شوی اړتیاوی نه شي پوره کیدای. دا ابیځی لکه زولنی له پښتو څخه راچاپیراو د هغی د پراختیا او غوړیدا مخه یي ډب کړیده. له هغه ځایه چی پښتو د هندو اروپایي ژبو په کورنۍ پوری تړلی او غږیز جوړښت یي له سامي ژبو څخه بیل او جلا دی چی په یاد شویو جدولونو کی ورته اشاره شوی ، پښتانه دی ته رابولي چی د خپلی ژبی د پرمختګ او غوړیدا له مخی دغه ستر خنډ چی هغه ناوړه او نامناسبه ابیځی ده ، ایسته کړي.

د خپل غږیز جوړښت پر بنسټ داسی ستونزی د سیمی نوری هندو اروپایي ژبی هم لري، خو پښتو چی نن سبا د ۶۰ میلیونو وګړو ژبه ده د خپل چټک پرمختګ او په ستونزو د بری لپاره د نورو لارو په څنګ کی لاتیني یا فونیمیک ابیځی ته سخته اړتیا لري . که پښتو سیمه کی له نورو سیالو ژبو مخکی په دی ګاڼه سمباله شي دا به سیمه کی د علامه اقبال په وینا چی افغانان د اسیا د لویي وچی تپنده زړه جوړوي د افغانانو ژبه به هم په نوی ابیځی سره د سیمی د نورو ژبو د ویښتون او ریسانس لپاره د جټکی او محرکی قوی پټوګه تمامه شي. د ژبو رسانس او نویتوب به د ولسونو د لاپوهاوی، نږدی اړیکو او ویښتوب پیلامه شي.

البته، دلته زما موخه دا نه ده چی داسی کار دی همدا نن پیل شي ځکه د پیل لپاره یي ښایي خواخوږی پښتانه وروڼه ډیری ستونزی مخی ته کیږدی خو په اوږدمهال کی پکار ده چی موږ په همدغه لار ولاړ شو.

هغه هیوادونو لکه ترکیه چی د خپل فقید مشر مصطفی کمال (اتاتورک) په لارښوونه یي د خپلی ژبی ابیځی له عربی په لاتین واړوله، ترکیي ژبه یي د وخت غوښتنو لپاره چمتو کړه. د نوی ترکیی په رامنځته کیدو کی د ابیځی په بدلون سره د ترکیي ژبی بیا رغون له پامه نه شي غورځیدای.

البته دلته نه غواړم چی د ترکیي د فقید مشر لار، په پټو سترګو د افغاني ژبی پښتو لپاره رانقل شي بلکی د خپلو دلایلو او اړتیاوو پر بنسټ چی پورته ورته اشاره وشوه، غواړم داسی وړاندیز ولرم.

ځیني کسان ښایي په ټوله کی، ژبه او په ځانګړی توګه د ژبی ابیځی له دین او یا مذهب سره وتړي او یا سیاسي رنګ ورکړي. خو ژبه له ځانګړي دین او یا مذهب څخه مخکی شتون لري او مذهبونه وګړو ته د دوی په ژبو او یا ژباړی سره راغلي دي. عیسوي دین اروپایانو پخپلو ملي ژبو ژباړلی، هره ژبه هلته د خپلی ژبی د غږیز جوړښت سره سم ابیځی لري. پښتنو هم د اسلام د سپیڅلي دین کتابونه په پښتو ژباړلی او دا لړۍ به ادامه ولري.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

که د پښتو ژبی ابیځی عربي او یا لاتین وي دا د پښتنو په دیني کمزوری دلالت نه کوي، بلکی دا د ژبی د پرمختګ او غوړیدا لپاره کیږي. که ژبه پخپل غږیز بنسټ په سمو تورو ولیکل شي، په ژبه کی فصاحت رامنځته کیږي او په داسی څرګنده او روښانه ژبه زموږ ټولنه کی دیني او سیانسي پوهنی ښه وده کولای شي او بلخوا په ژباړه کی مرسته کوي . خو که ژبه د سیاسي او یا نورو ملحوظاتو پر بنسټ له خپل چورلیز څخه وښویږي، ژبه ګډه وډه او انجړیږي او ګډه وډه ژبه د یوی ټولنی د وګړو تر منځ د ورانپوهاوي او تاوتریخوالي لامل ګرځیدلای شي.

په پای کی ویلای شو د ابیځی بدلون د څو ژبپوهانو او یا لیکوالو د تفنن، سلیقی او ځان ښودلو خبره نه ده، بلکی د یاد شویو لاسوندونو پر بنسټ د پښتو ژبی د وضاحت، پرمختګ او غوړیدا په موخه د یوه عیني اړتیا پټوګه لیدل کیږي.

پای

اخځونه:
(۱) پښتو قاموس، د افغانستان علومو اکاډمي ـ لومړی ټوک (۶۵) مخ
د ۲۰۱۲ کال د جنوري ۲۶ مه

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ